# قرآني بيان

# او سيدل حضرت آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) او په جَنَّت کښې

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امامِ مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 23 جنورى، کال 2026ء

(متوقع اسلامي تاريخ: 3 شعبان شريف، کال 1447ھ)

د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 23 جنورى، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 3 شعبان شريف، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# حضرت آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) او پهٔ جَنَّت کښې اوسيدل

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- --- د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه هيڅکله ګناه نهٔ ده شوې
- ---پهٔ جَنَّت کښې د اوسيدو حکمتونه
- --- د شيطان خطرناک سازش
- --- آيا تهٔ د جَنَّت طمع لرې---!!

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

پهٔ روايتونو کښې دي: چې د الله پاک نبي حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ جَنَّت کښې وو، (هغوئي چونکه وړومبے اِنسان وو، هغه وخت د هغوئي پهٔ شان څوک وو نهٔ، ځکه) هغوئي تنهائي او خفګان محسوس کولو، الله پاک هغوئي له خوب ور وستلو، هغوئي چې کله اودهٔ شو نو د هغوئي د پوښتۍ نه حضرت حوَّا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها پيدا کړے شوه- حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام رابيدار شو، هغوئي چې د خپل ځان پهٔ شان يو انسان، حضرت حوَّا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها وليدله نو د هغوئي طرف ته يې لاس غزول غوښتل خو حکم وشو: اے آدمه! ودرېږه! وړومبے حق مهر ادا کړه! (حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پوښتنه اوکړه: د دې حق مهر څهٔ دے؟) حکم وشو: 10 کرته زمونږ پهٔ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک ولوله! (هم دغه حق مهر دے)- حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام 10 کرته درودِ پاک ولوستو او د هغوئي نِکاح د حضرت حوَّا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها سره اوکړے شوه- (1)

---

1... البريقة المحمودية، الباب الاول ...الخ، النوع الثانى فى الاعتصام بالسنة، جلد:1، صفحه :123 خلاصةً-

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم--!! پۀ دې ځائے کښې يوه ايمان تازه کوونکې نکته ده، علمائے کرام فرمائي: حق مهر شِفا ورکوونکے دے- مولا علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ فرمائي: کله چې پۀ تاسو کښې څوک بيمار شي نو هغۀ له پکار دي چې هغه د خپلې کور وداني د مهر نه درې درهمې واخلي، پۀ هغې دې شات واخلي، پۀ هغې کښې دې د باران اوبۀ يو ځائے کړي او وه دې څښي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! شفا به بيامومي- (1) قربان شم! زمونږ د ټولو د خوږې مور جانې اُمُّ البشر حضرت حوَّا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها خو حق مهر هم درودِ پاک وو، ځکه مونږ له هم پکار دي چې درودِ پاک لولو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ دې کښې زمونږ د پاره هم شِفا ده-

| | |
|---|---|
| ہر درد کی دوا ہے صَلِّ علٰی مُحَمَّد | تعویذِ ہر بلا ہے صَلِّ علٰی مُحَمَّد |
| قربِ خدا ہو حاصل جنت میں ہو وہ داخل | جس نے لکھا پڑھا ہے صَلِّ علٰی مُحَمَّد |
| جنت مقام ہو گا دوزخ حرام ہو گا | گر دل پہ لکھ لیا ہے صَلِّ علٰی مُحَمَّد |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

---

1 ... مصنف ابنِ شيبہ، کتاب الطب، ما قالوا فی العسل، جلد:5، صفحہ:461، رقم:2-

وَقُلْنَا يٰۤاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ۪
وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۵﴾
فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۪

(پاره: 1، سورة البقرة: 35-36)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مونږه وفرمائيل! اے آدمه! تهٔ او ستا بي بي پهٔ جَنَّت کښې اوسئ او بے له څهٔ بنديزه چرته مو چې زړهٔ غواړي خورئ، خو د دې ونې خوا ته مهٔ نزدې کيږئ کنې د حد نه تيريدونکو نه به شئ۔ نو شيطان هغوئي دواړه د جَنَّت نه را وښوئيول پس هغوئي يې را وويستل د هُغه ځائے نه چرته چې هغوئي اوسيدل او مونږه وفرمائيل تاسو ښکته کوز شئ تاسو کښې به بعضې د بعضو دښمنان يئ او ستاسو د پاره د يو خاص وخته پورې پهٔ زمکه اوسيدل او (د ژوند تيرولو) سامان دے۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ وړومبي سيپاره، د سورهٔ بقره پهٔ څلورمه رکوع کښې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د پيدائش او د هغوئي پهٔ زمکه باندې د تشريف راوړلو تفصيلي واقعه بيان کړے شوې ده، د هغوئي د جوړولو نه مخکښې د فرښتو پهٔ مخکښې د هغوئي د خليفةُ الله اِعلان اوکړے شو، بيا چې کله هغوئي جوړ کړے شو نو الله پاک هغوئي ته عِلمُ الاَسما عطا کړو، پهٔ فرښتو باندې د هغوئي برے ظاهر کړے شو، بيا فرښتو ته حکم

وشو چې هغوئي ته سجده اوکړي، نو ټولو فرښتو د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د تعظيم د پاره هغوئي ته سجده اوکړه- آؤ! شيطان بد بخته وو، هٔغه بد انجامه تڪبر اوکړو، د الله پاک د حڪم نه يـې اِنڪار اوکړو او سجده يـې اونڪړه او د هميشه د پاره مردود [يعنې رد کړےشوے وګرځولے] شو- د دې نه پس څۀ وشو؟ د دې ذِکر پۀ دې آيت مبارک کښې دے د کوم چې اوس مونږ د اوريدو سعادت حاصل کړو-

## د آيتونو مبارکو مختصر وضاحت

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَقُلْنَا يٰۤاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا۪ (پاره: 1، سورۀ البقرة: 35) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مونږه وفرمائيل! اے آدمه! تۀ او ستا بي بي پۀ جَنَّت کښې اوسئ او بے له څۀ بنديزه چرته مو چې زړۀ غواړي خورئ- |

هٔغه جَنَّت کوم چې د نيکانو خلقو د پاره تيار کړے شوے دے او کوم ته چې به د قيامت نه پس داخليدل وي، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام او حضرت حوَّا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها پۀ دغه جَنَّت کښې ديره کړے شول- دلته دا خبره هم ياد ساتل پڪار ده چې جَنَّت ته داخليدل پۀ دوه قِسمه دي: (1): يو دې هٔغه داخليدل کوم چې به د قيامت نه پس نصيب کيږي، هغه به د ثواب او د اِنعام پۀ توګه وي، لهذاپۀ هغه وخت کښې به پۀ جَنَّت کښې هيڅ قسمه بنديزونه نۀ وي، نۀ به هلته خوب وي نۀ مرګ او نۀ به جنتيان د جَنَّت نه ويستلے کيږي

(2): خو د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دا جَنَّت ته تلل د ثواب يا د اِنعام پهٔ توګه نهٔ وو بلکې دا داخِله د بعضو حکمتونو پهٔ وجه وه، ځکه هغوئي هلته څهٔ څیزونو ته د نزدې کیدو نه منع کړے شو-[1] ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴿۳۵﴾ (پاره: 1، سورۃ البقرۃ: 35) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: خو د دې ونې خوا ته مهٔ نزدې کیږئ ګنې د حد نه تیریدونکو نه به شئ- |

يعنې د جَنَّت د هر نعمت هغوئي ته د خوړلو ښښلو اجازت وو خو یوه خاص ونه وه، کومې ته چې د نزدې کیدو یعنې د هغې د میوې خوړلو نه منع فرمائیلے شوې وه، دا ونه کومه یوه وه، پهٔ دې باره کښې مختلف روایتونه دي، ډیر مشهور روایت دا دے چې دا د غنمو ونه وه- [2] دلته د غنمو یو وړوکے شان بوټے وي خو پهٔ جَنَّت کښې د دې ونه وه او د دې میوه یعنې د غنمو دانه هم د غوئي د ګُردې همره وه- [3]

| | |
|---|---|
| فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۠ (پاره: 1، سورۃ البقرۃ: 36) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو شیطان هغوئي دواړه د جَنَّت نه را وښوئیول پس هغوئي یې را وویستل د هُغه ځائے نه چرته چې هغوئي اوسیدل- |

---

1... تفسیر نعیمی، پاره:1، البقرۃ، زیر آیت:35، جلد:1، صفحہ:294-298 خلاصۃً-
2... تفسیر نسفی، پاره:1، البقرۃ، زیر آیت:35، جلد:1، صفحہ:81-
3... تفسیر روح البیان، پاره:1، البقرۃ، زیر آیت:35، جلد:1، صفحہ:110-

# حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته د ګنهګار وئيلو حکم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته يوه خبره کومه چې ډيره اهمه ده او پۀ ضروري توګه د يادولو ده، هغه ده د الله پاک د نبي حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام عصمت (يعني د ګناهونو نه پاک والے)۔ دلته نن سبا بے باکي عامه ده، د دِيني معلوماتو کمے دے، خلق د خبرو پۀ وخت سوچ فِکر نۀ کوي، بس چې څۀ يـې خُلې له راځي وائي يـې ❖ کله د انبيائے کرامو علَيهِمُ السَّلام بے ادبي کيږي ❖ کله پۀ جَنَّت او پۀ دوزخ پسې ټوقې کيږي ❖ کله د فرښتو پۀ باره کښې سپکې خبرې کيږي۔ دا ډيرې سختې خبرې دي، د داسې خبرو پۀ وجه اِنسان د اِسلام نه وتے هم شي۔ ځکه مونږ له پکار دي چې د داسې خبرو نه ډډه اوکړو۔

خاص طور حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د دې جنتي ونې ميوه وخوړله، دا خبره خو تعليم يافته خلق هم پۀ منفي انداز کښې اخلي۔ مثلاً ❖ هغوئي د جنتي ونې ميوه ولې خوړله؟ ❖ هغوئي له داسې کول نۀ وو پکار؟ ❖ هغوئي ګناه اوکړه؟ ❖ پۀ دې وجه مونږ زمکې ته راغلو وغيره وغيره۔ **د يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام پۀ باره کښې داسې خبرې کول ډيرې سختې دي۔** پۀ بعضې حالاتو کښې پۀ داسې خبرو باندې د کُفر حکم هم لګيدے شي۔ [(1)] اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (پۀ عامو خبرو کښې) د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام طرف ته د ګناه نسبت کول حرام (او دوزخ ته بوتلونکے کار دے) بلکې علمائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم دې ته کُفر فرمائيلے دے۔ [(2)]

---

1... صراط الجنان، پاره:1، البقرة، زير آيت:35، جلد:1، صفحه:105۔
2... فتاویٰ رضويه، جلد:1، حصه:ب، صفحه:1119 ملتقطًا۔

## د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه هيڅكله هم ګناه نهٔ ده شوې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا هميشه ياد ساتئ چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې د كومې جنتي ونې ميوه وخوړله، دا هيڅكله ګناه نهٔ وه، پهٔ دې باندې پهٔ يو مثال داسې څان پوهه كړئ چې مونږ روژه ونيوله، اوس كه مونږ يوه نمړۍ هم قصداً وخورو نو ګناه به هم كيږي او پهٔ شرطونو پوره كيدو به كفاره هم لازمي وي خو كه مونږ ته ياد نهٔ وي چې مونږ روژه نيولې ده نو يوه نمړۍ نهٔ، كه 4 ډوډۍ هم وخورو نو نهٔ خو به روژه ماتيږي او نهٔ به مو ګناه كيږي او نهٔ به راباندې كفاره لازمي كيږي- يعنې هُغه كار چې كله قصداً عمداً، د روژې د ياديدو باوجود اوكړے شي نو پهٔ هغې باندې ګناه هم وشوه او روژه هم ماته شوه، كفاره هم لازمي شوه خو هم هُغه كار كه پهٔ هيره اوكړے شي نو نهٔ ګناه شته او نهٔ كفاره---!! اخر ولې؟ ځكه چې هيره معاف ده- اوس پوهه شوئ! حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جنتي ونې د ميوې خوړلو نه منع كړے شوے وو، دا بالكل رښتيا دي، هغوئي د منع كولو باوجود هُغه ميوه وخوړله، دا هم رښتيا دي خو هغوئي ته ياد نهٔ وو كله چې يـې دا ميوه خوړله بلكې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَقَدْ عَهِدْنَاۤ اِلٰۤى اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِیَ وَ لَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿۱۱۵﴾ (پاره:16، سورهٔ طٰهٰ:115) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او بے شكه مونږه آدم ته د دې نه مخكښې تاكيدي حكم وركړے وو نو د هغهٔ نه هير شولو او مونږه د هغه څهٔ پخه اِراده نهٔ وه موندلې- |

وګورئ الله پاک صفا صفا اِرشاد فرمائيلےدے چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې د جنتي ونې کومه ميوه خوړلې وه، هغوئي پۀ ويره خوړلې وه، ځکه د هغوئي دا جنتي ميوه خوړل هيڅکله ګناه نۀ وه-

## د جَنَّت نه زمکې ته د راتللو وضاحت

اوس پۀ ذِهن کښې پوښتنه راځي چې که د هغوئي جنتي ميوه خوړل ګناه نۀ وه نو هغوئي د جَنَّت نه زمکې ته ولې راکوز کړے شول---؟ دا ډيره اهمه پوښتنه ده او د دې جواب دا دے چې د سره نه دا پوښتنه هډو صحيح نۀ ده- اصلي پوښتنه دا نۀ ده چې هغوئي د جَنَّت نه ولې راويستے شو؟ اصلي پوښتنه دا جوړيږي چې هغوئي پۀ جَنَّت کښې ولې ساتلے شوي وو؟ پۀ اصل کښې خو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام هم دې د پاره نۀ وو جوړ کړے شوے چې هغوئي به د پيدا کيدو نه پس هم پۀ جَنَّت کښې ديره کولے شي بلکې هغوئي پۀ زمکه د خليفه جوړولو د پاره پيدا کړے شوے وو- وګورئ چې الله پاک د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د پيدائش نه هم مخکښې فرښتو ته فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنِّیۡ جَاعِلٌ فِی الۡاَرۡضِ خَلِیۡفَةً ؕ<br>(پاره:1، سورۀ البقرة:30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زۀ پۀ زمکه کښې خپل نائب جوړولو والا يم- |

معلومه شوه چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پيدا کړے شوے پۀ زمکه کښې د خلافت د پاره وو- د هغوئي پۀ جَنَّت کښې ايسارول د حکمت د لاندې وو، کله چې هُغه حکمت

پوره شو نو هغوئي خپل د خلافت اصلي ځائے يعنې زمکې ته راکوز کړے شو- لهذا **دې ته د جَنَّت نه ويستل يعنې بے دخله کول وئيل غلطه خبره ده-**

## پۀ جَنَّت کښې د اوسيدو حکمتونه

اوس پوښتنه دا ده چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ زمکه باندې د خليفه جوړولو د پاره پيدا کړے شوے وو نو بيا هغوئي پۀ جَنَّت کښې ولې ايسار کړے شو---؟ پۀ دې کښې هم ډير حکمتونه دي، پۀ دې کښې صرف دوه حکمتونه واورئ:

## (1): د شيطان دښمني واضحه کړے شوه

وړومبے حکمت دا دے چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ جَنَّت کښې ايسار کړے شو د پاره د دې چې د شيطان د اِنسان سره دښمني پۀ عملي توګه واضحه کړے شي- شيطان کوم چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام سره حَسَد کولو، کله چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ جَنَّت کښې ايسار کړے شو نو هغۀ د هغوئي د جَنَّت نه د ويستو ډير کوشش اوکړو، **مَعَاذَ الله!** وسوسه يے هم ور واچوله، د هغوئي پۀ مخکښې يے د دروغو قَسم هم وخوړو، غرض دا چې هغۀ **مَعَاذَ الله!** د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د دوکه کولو ډير کوشش اوکړو خو دې بد بخته ته معلومه نۀ وه چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نبي دے او انبيائے کرام عليهمُ السَّلام معصومه وي، پۀ دوئي باندې د شيطان چلونه اثر نۀ کوي، البته حکمت هم دا وو چې شيطان خپله دښمني واضحه کړه، الله پاک د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام حفاظت وفرمائيلو، د هغوئي نه هير شو او هُم پۀ هيره يے هُغه جنتي ميوه وخوړله، داسې د هغوئي نه ګناه هم

اونۀ شوه او د شيطان دښمني هم راښکاره شوه- [1]

## اے د آدم اولاده! د شيطان نه بچ اوسئ---!!

پۀ اتمه سيپاره، سورۀ اعراف کښې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام هم د دې واقعې د ذِکر کولو نه پس الله پاک مونږ اِنسانانو ته اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ (پاره:8، سورۀ الاعراف:27) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے د آدم اولاده! تاسو چرته شيطان پۀ فتنه کښې اخته نکړي څنګه چې يـې ستاسو مور او پلار د جَنَّت نه ووېستل- |

يعني اے د آدم اولاده! دا خبره هميشه ياده ساتئ چې شيطان ستاسو ښکاره دښمن دے، دا هم هغه دے څوک چې ستاسو د مور او پلار (حضرت آدم او حضرت حوا عَلَيْهِما السَّلَام) د جَنَّت نه د راوېستو سبب جوړ شو، څکه د دې خبرې هميشه خيال ساتئ او ځان بچ کړئ چې چرته شيطان مو پۀ فتنه کښې اخته نۀ کړي-

غرض دا چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام خليفه د زمکې د پاره پيدا کړے شوے وو خو هغوئي د څۀ مودې د پاره پۀ جَنَّت کښې وساتلے شو، پۀ دې کښې حکمت دا وو چې زمونږ د اِنسانانو د پاره د شيطان دښمني واضحه کړے شي- څکه پۀ مونږ ټولو باندې لازم دي چې شيطان خپل دښمن وګڼو-

1 ... التبيان مع البيان، پاره:1، البقرة، زير آيت:36، صفحه:142-143 خلاصۀ-

## شيطان دښمن وګڼئ---!!

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ؕ۶

(پاره:22، سورة الفاطر:6)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه شيطان ستاسو دښمن دے نو تاسو هُم هغه دښمن وګڼئ، هغه خو خپله ډله هم د دې د پاره رابلي چې هغوئي هم د دوزخيانو نه شي-

يعنې اے خلقو! شيطان ستاسو ډير پخوانے دښمن دے، د هغهٔ دا دښمني به چرې هم نهٔ ختميږي، لهذا تاسو هم د خپلو عقيدو پهٔ معامله کښې، د خپلو افعالو او اعمالو پهٔ معامله کښې دا خبيث خپل دښمن ګڼئ! پهٔ دهٔ پسې هيڅکله هُم مهٔ ځئ! (دا خو پوخ دوزخي دے او خلق د کُفر طرف ته رابلي هم دې د پاره چې هغوئي هم (د خپل ځان سره) دوزخ ته بوځي- (1)

## د شيطان خطرناک سازش

اے د خوږ نبي صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! معلومه شوه چې شيطان زمونږ ښکاره دښمن دے، لکه څنګه چې دا د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جَنَّت نه د بهر راتللو سبب جوړ شو، هم داسې دا غواړي چې مونږ د جَنَّت نه محرومه شو او د دوزخ حقدار جوړ شو- لهذا مونږ

1... تفسير صراط الجنان، پاره:22، سورهٔ فاطر، زير آيت:6، جلد:8، صفحه:177 خلاصةً

له پکار دي چې هميشه د دهٔ د چلونو نه بچ اوسو، د دهٔ چلونه ډير خطرناک دي-

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي، زمونږه او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم فرمائيلي دي: پهٔ بني اسرائيلو کښې يو راهب (يعني پهٔ تنهايئ کښې عبادت کوونکے) وو، شيطان د هغهٔ (د دوکه کولو لار څهٔ داسې اِختيار کړه چې) د يوې جينئ څَټ يې تاؤ کړو او د هغوئي د کور والؤ پهٔ زړونو کښې يې دا خبره واچوله چې د دې علاج د فلانکي راهِب سره دے- نو هُغه خلقو هغه واخسته او د راهب خوا له لاړل، بيا راهب وړومبے خو د جينئ د علاج کولو نه منع اوکړه خو بيا هغه راضي شو- بيا هُغه جينئ يواځې د هغهٔ سره وه، شيطان د راهِب پهٔ دوکه کولو لاس پورې کړو، د هغهٔ زړهٔ ته يې ګنده وسوسې اچول شروع کړې، پهٔ شروع شروع کښې خو هُغه راهِب د شيطاني وسوسو نه اِنکار کولو، اخر د شيطان پهٔ جال کښې راګير شو او د هُغه جينئ سره يې زِنا اوکړه، او جينئ حامله شوه، بيا شيطان د راهِب پهٔ زړهٔ کښې وسوسه واچوله چې کله د دې کور والا راشي (او هغوئي د دې خبرې نه خبر شي) نو تهٔ به رسوا شې، ځکه تهٔ دا قتل کړه او چرته يې ښخه کړه- بيا به راهِب څهٔ کول، هغهٔ د خپل عزت د بچ کولو د پاره جينئ قتل کړه، بل خوا شيطان د جينئ د کور والؤ خوا له لاړو، هغوئي ته يې وسوسې واچولې، هُغه ځائے يې وکنستو، د راهِب حال ښکاره شو، راهِب ونيولے شو، (کله چې راهِب وژلے کيدو نو) شيطان بيا د راهِب خوا له راغلو او اوئې وئيل: هم ما تهٔ پهٔ ګناه کښې راګير کړې، بيا هم ما تا ته د دې د وژلو وسوسه در واچوله- اوس که تهٔ زما يوه خبره اومنې نو زهٔ ستا ژوند بچ کولے شم، راهِب ترينه د خبرې پوښتنه اوکړه، شيطان ووئيل چې ما ته سجده

اوکړه! (آه! نادان راهِب---!! بيا هم د شيطان پهٔ چل پوهه نهٔ شو) هغهٔ شيطان ته سجده اوکړه، خنکه چې هغهٔ دا کُفر اوکړو نو شيطان ووئيل: زما ستا سره هيڅ تعلق نشته- هم دا هُغه خبره ده د کومې پهٔ باره کښې چې الله پاک فرمائي: (1)

| | |
|---|---|
| كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾ (پاره:28، سورۂ الحشر:16) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: لکه د شيطان مثال چې کله هغه اِنسان ته ووئيل: "کُفر اوکړه" بيا چې کله هغهٔ کُفر اوکړو نو [شيطان] ووئيل: بے شکه زهٔ ستا نه بيزاره يم، بے شکه زهٔ د هُغه الله نه ويريږم کوم چې د ټولو جهانونو رَبّ دے- |

الله! الله! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور اوکړئ چې شيطان څومره خطرناک دښمن دے---!! د دې بد بخته خواهش هم دا دے چې مونږه د نجات د لارې نه منع کړي او د دوزخ حقداران مو جوړ کړي-لهٰذا عقل مند هم هغه دے څوک چې دا بد بخته خپل دښمن وګڼي او د دهٔ د چلونو نه ځان بچ کړي-

## د جاهِل او د عقل مند پيژندګلو

بزرګان فرمائي چې د عقل مند نخښه دا ده چې هغه رښتونے دوست او دښمن پيژني او د جاهل نخښه دا ده چې کوم رښتونے دوست او دښمن نهٔ پيژني---!! (2)

1... موسوعه ابن ابى الدنيا، مكائد الشيطان، جلد:4، صفحه:546، حديث:61-
2... تنبيه الغافلين، باب عداوة الشيطان ومعرفة مكايده، صفحه:344 بتقدم و تاخر-

مطلب دا دے چې د الله پاک مقصد زمونږ سره ښيګړه ده، رَبِّ کريم زمونږ د پاره قرآنِ پاک نازل کړو، زمونږ د پاره يـې نبئ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَحمَةٌ لِّلعَالَمِين راوليږلو، دا هر څهٔ دي د پاره چې مونږ د دوزخ نه بچ شو او د جَنَّت حقداران جوړ شو خو شيطان بد بخته دے، دا زمونږ ښکاره دښمن دے، دا خو هُم دا غواړي چې مونږ د دوزخ پهٔ لار روان شو، ځکه عقل مند هغه دے څوک چې شيطان او د هغهٔ دښمني پيژني- مونږ له پکار دي چې د عقل مندئ نه کار واخلو او شيطان خپل ښکاره دښمن هم اومنو او د هغهٔ پهٔ دښمن جوړيدو ژوند تير کړو-

## د شيطان دښمن جوړيدل دي خو څنګه---!!

حضرت وَهب بِن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شيطان نه پوښتنه اوکړه: اے ملعونه! زما پهٔ اُمت کښې ستا دښمن څوک دے؟ شيطان ووئيل: ستاسو پهٔ اُمت کښې زما 15 دښمنان دي: (1): تاسو ځپله (2): انصاف کوونکے سلطان (3): عاجزي کوونکے مالداره (4): رښتونے سوداګر (څوک چې پهٔ تجارت کښې غلا نهٔ کوي، پهٔ ناپ تول کښې کمے نهٔ کوي، دروغ نهٔ وائي) (5): د الله پاک نه ويريدونکے عالِم (6): نصيحت کوونکے مؤمن (7): زړهٔ سواندے مسلمان (8): پهٔ توبه باندې قائِم اوسيدونکے (9): د حرامو کارونو نه بچ کيدونکے (10): هميشه پهٔ اودس کښې اوسيدونکے مسلمان (11): ډيره صدقه کوونکے مسلمان (12): د ښو اخلاقو والا مسلمان (13): نورو ته فائده رسوونکے (14): صاحِبِ قرآن

څوک چې ډېر تِلاوت کوي (15): د شپې چې کله خلق اوده وي، هُغه وخت نمونځ کوونکے- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترينه پوښتنه اوکړه: زما پهٔ اُمت کښې ستا دوستان څوک دي: شيطان ووئيل: دا 10 کسان دي- (1): ظالِم سلطان (2): تکبّر کوونکے مالداره (3): خيانت کوونکے سوداګر (4): شرابي (5): چغل خور (6): زِنا (يعني بدکارۍ) کولو والا (7): د يتيم مال خوړلو والا (8): نمونځ له اهميت نهٔ ورکوونکے (9): زکوٰة نهٔ ورکوونکے (10): اوږد اُميد (يعني د ډېرې مودې پورې د ژوندي اوسيدو اُميد) لرونکے، دا 10 قِسمه خلق زما دوستان او زما ورونه دي-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا 15 کسان دي کوم چې د شيطان دښمنان دي او 10 کسان دي کوم چې د شيطان دوستان دي- اوس پهٔ مونږ باندې لازم دي چې مونږ د شيطان دښمنان جوړ شو لهذا ❖ عاجزي کوونکي جوړ شئ ❖ پهٔ اخستو او خرڅولو کښې صفائي اِختيار کړئ يعني رښتيا وايئ او دوکه کول مهٔ کوئ ❖ د اللّٰه پاک نه ويره اِختيار کړئ ❖ عِلمِ دِين زده کړئ ❖ د نيکۍ دعوت عام کوونکي جوړ شئ ❖ زړهٔ سواندي اِختيار کړئ ❖توبه کوئ او پهٔ دې باندې قائم هم اوسئ ❖ د حرامو نه هميشه ځان ساتئ ❖ ښهٔ اخلاق اِختيار کړئ ❖ ډېره صدقه ورکوئ ❖ پهٔ اودس کښې د اوسيدو عادت جوړ کړئ ❖ مسلمانانو ته فائده رسوئ ❖ ډېر تلاوت کوئ او ❖ د شپې چې کله خلق اوده وي نو که ډېر نهٔ وي نو کم از کم د دوه رکعته نفل نمونځ کولو عادت جوړ

1 ... تنبيه الغافلين، باب عداوة الشيطان ومعرفة مکايده، صفحه:247-

کړئ- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2): د تکاليفِ شرعيه اهميت

حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د څۀ مودې پورې پۀ جَنَّت کښې ايسار کړے شو، پۀ دې ذريعه د شيطان دښمني واضحه کړے شوه- پۀ دې کښې دويم حکمت دا هم پۀ نظر راځي چې پۀ دې ذريعه د تکاليفِ شرعيه (د الله پاک د حکمونو) اهميت واضحه کړے شو- د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ **تفسيرِ نعيمي** کښې ليکلي دي: (د قيامت نه پس چې به کله مونږ جَنَّت ته لاړ شو نو هلته به دهيڅ څيز څه بنديز نۀ وي خو) حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام (د حکمت لاندې پۀ جَنَّت کښې ايسار کړے شو، بيا هغوئي ته) د يوې ونې ته د نزدې کيدو، د هغې د ميوې خوړلو نه هم منع وکړے شو، پۀ دې کښې حکمت دا وو چې پۀ هغوئي او د هغوئي پۀ اولاد باندې پۀ دُنيا کښې احکام جاري کيدل وو او د دُنيا د ځينې څيزونو نه منع کول وو، لهذا د دې حکمونو عادت جوړلو د پاره هغوئي د جنتي ميوې د خوړلو نه هم منع کړے شو- [1]

---

1 ... تفسير نعيمي، پاره:1، البقرة، زير آيت:35، جلد:1، صفحه:296-

غرض دا چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د څۀ مودې د پاره پۀ جَنَّت کښې ايسار کړے شو او هغوئي د يوې ونې نه پۀ منع کولو مونږ ته د شرعي حکمونو اهميت وښودلے شو او ووئيلے شو چې مونږه شرعي حکمونه چرې هم معمولي ونۀ ګڼو، د دې ډېر اهميت دے، وګورئ چې **حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نبي دے، معصوم دے، د هغوئي نه ګناه کيدل پۀ شرعي توګه ممکن نۀ ده،** [1] د دې باوجود هغوئي پۀ هيره د حکم خلاف اوکړل نو هغوئي د جَنَّت نه زمکې ته راکوز کړے شو، معلومه شوه چې صرف د شرعي حکم خلاف ورزي کول د جَنَّت نه د محرومه کيدو سبب جوړيدے شي-

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** دا واقعي چې حقيقت دے، مونږ ته چې شريعت د کومې کومې خبرې حکم کړے دے، د کومو کومو خبرو نه چې يې منع کړي يو، د هغې ډېر اهميت دے، دا معمولي څيز نۀ دے خو افسوس چې نن سبا د خلقو پۀ زړونو کښې د شرعي احکامو اهميت کميږي، آه! افسوس! ❖ مونږ هغه بد نصيبه يو د چا سره چې د نـمونځ کولو فِکر نۀ وي ❖ د شپې د اوده کيدو پۀ وخت خلق د دفتري وخت يا کار له د تللو د پاره پۀ وخت پاڅيدو له الارم خو لګوي خو د سحر د نـمونځ د پاره د پاڅيدو څۀ انتظام نۀ کوي ❖ که چرته څي او ټکټ يې بُک کړے وي نو پۀ وخت يې سترګې هم غړيږي، د مخکښې نه تياريانې هم کيږي خو افسوس چې د نـمونځونو د وختونو خيال نۀ ساتلے کيږي ❖ چرته چې د خپل عقل مطابق راته څۀ بے عزتي محسوسيږي هلته

---

1 ... بهارِ شريعت، جلد:1، حصه:1، صفحه:38 ماخوذًا-

خو د هٰغه کارونو نه مونږ منع کيږو خو شرعي حکمونو له اهميت نۀ ورکوو ❖ پۀ ودونو وغيره کښې د خپل عزت خيال ساتلو د پاره، د نفس د سکون د پاره ښې ډيرې سندرې ګډاګانې کيږي، ګناهونه کيږي خو افسوس چې د شريعت حکم څۀ دے، د دې بالکل مونږ هډو خيال نۀ ساتو ❖ د ږيرې شريف پۀ شان مبارک سُنَّت صرف د فيشن پۀ نوم پۀ خريلو نالو ته غورځولے کيږي ❖ پۀ فضول خرچۍ کښې که پۀ لکونو مال ولګي خو زکوٰة ورکول راته ګران وي ❖ کله چې د ګټې خبره راشي نو د سود د لين دَين نه هم نۀ منع کيږو ❖ د يو خو روپو د پاره پۀ اخستو او خرڅولو کښې دوکه کيږي ❖ دروغ وئيل نن سبا خلق فيشن ګڼي- غرض دا چې د کومو کومو خبرو ذِکر به کوې--!! هٰغه کوم يو شرعي حکم دے پۀ کوم کښې چې نن سبا بے پروائي نه کيږي--!! ياد ساتئ چې دا ډيره خطرناکه خبره ده-

## د نافرمانه خلقو نه شادوګان جوړ شول

پۀ قرآنِ کريم کښې د بني اسرائيلو يوه عبرتناکه واقعه ذِکر کړے شوې ده، د بني اسرائيلو ځينې خلق وو کوم چې د سمندر پۀ غاړه پۀ اَيله نومې کلي کښې اوسيدل، دا ټول مچي ماران [يعني مهيانو نيولو والا] وو، پۀ سمندر کښې به يې مهيان نيول، خرڅول او د خپل رزق انتظام به يې کولو، ډير ښکلے ژوند يې تيريدلو، بيا د الله پاک د هغوئي اِمتحان منظور شو، نو د هغوئي د پاره د خالي پۀ ورځ د مهيانو ښکار حرام کړے شو خو افسوس چې هغوئي د الله پاک دې حکم له څۀ اهميت ورنکړو- (لکه څنګه چې نن سبا خلق پۀ مختلفو حيلو

د حرامو د حلالو او د حلالو د حرامو جوړولو کوشش کوي، د بني اسرائيلو يوې ډلې هم داسې اوکړل) هغوئي د خپلو کورونو پهٔ خوا کښې لوئي لوئي تالابونه جوړ کړل او د سمندر نه يــې نالئ راويستې او د تالابونو پورې يــې راوستې، د خالي پهٔ ورځ به چې کله مهيان ډير وو نو د نالو خُلې به يــې پرانستې، مهيان به د نالو پهٔ ذريعه تالابونو ته راغلل او پهٔ بله ورځ به دوئي ونيول-

دا هم د الله پاک نافرماني وه، هغوئي صرف د خپل زړهٔ د تسلئ د پاره داسې اوکړل، ګنې نو ظاهره ده چې مهيان نيول منع وو نو که پهٔ جال غورځولو يــې نيول او که پهٔ تالاب کښې د ګيرولو پهٔ ذريعه يــې نيول، پهٔ دواړو حالتونو کښې خو مهيان ونيولے شول-

لهذا هغوئي پوهه کړے شو، د دِين درد لرونکو هغوئي ته د نيکئ دعوت ورکړو، هغوئي ته يــې ووئيل چې څهٔ تاسو کوئ نو دا غير شرعي حيله ده، دا صرف يوه بهانه ده، تاسو د الله پاک نافرماني کوئ خو دوئي وه نهٔ منله، د الله پاک نافرماني يــې کوله، د ګناه پريښودو او توبه کولو ته تيار نهٔ شول، اخر د هغوئي د پرله پسې نافرمانئ پهٔ وجه د الله پاک قهر پهٔ هغوئي باندې نازل شو، يو سحر وليدلے شو چې د نافرمانو مخونه مسخ [يعنې وران] شوي وو او دا ټول پهٔ ټوله شادوګان شوي وو-[1] الله پاک دا عبرتناکه واقعه پهٔ قرآنِ کريم کښې څهٔ داسې ذِکر کړې ده:

---

1... حاشيه صاوی علی الجلالين، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:66، جلد:1، صفحه:80-

وَ لَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿٦٥﴾

(پاره:1، سورۂ البقرة:65)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او يقيناً تاسو ته معلوم دي هٔغه خلق پهٔ تاسو کښې چې کومو د خالي پهٔ ورځ سرکشي اوکړه نو مونږه هغوئي ته ووئيل چې شئ ذليله شوي شادوګان-

گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی
ہائے میں نارِ جہنم میں جلوں گا یاربّ!
عَفو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
گر کرم کردے تو جنّت میں رہوں گا یاربّ![1]

## ګناه د الله پاک سره جنګ دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې د الله پاک د نافرمانۍ کونسکو څومره خطرناک انجام شو، الله پاک د بني اسرائيلو هٔغه نافرمانه د قيامته پورې د خلقو د پاره د عبرت نخښه جوړه کړه- الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې د هٔغې عبرتناکې واقعې پهٔ باره کښې فرمائي:

---

1 ... وسائلِ بخشش، صفحہ:85 ملتقطًا-

فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهَا وَ مَا خَلْفَهَا وَ مَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِیْنَ ﴿۶۶﴾

(پاره:1، سورة البقرة:66)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو مونږه دا واقعه د هُغه وخت د خلقو او د هغوئي نه پس راتلونکو د پاره عبرت او د پرهیزګارو د پاره نصیحت وګرځوله۔

معلومه شوه چې پهٔ دې واقعه کښې عبرت دے، الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې دا واقعه زمونږ د عبرت د پاره بیان کړه، لهذا مونږ له پکار دي چې مونږ د دې نه عبرت حاصل کړو، د الله پاک حُضُور ته رجوع اوکړو، توبه وکړو، نیکۍ اوکړو او د الله پاک او د هغهٔ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانۍ نه هر وخت ځان وساتو چې د الله او د هغهٔ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرماني پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې د ذِلت او رسوایۍ سبب دے۔ حضرت اِمامِ حَسَنِ بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائیل: اے اِبنِ آدمه! تهٔ دې هلاک شې---! آیا تهٔ د الله پاک سره مقابله کول غوارې؟ آؤ! آؤ! چا چې د الله پاک نافرماني اوکړه ګویا هغهٔ چې د الله پاک سره جنګ اوکړو۔ (1)

گناہوں سے مجھ کو بچا یااِلٰہی! | بُری عادتیں بھی چھڑا یااِلٰہی!
خطاؤں کو میری مٹا یااِلٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یااِلٰہی! (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...عُیُونُ الحکایات، حصہ اوّل، صفحہ:52۔
2... وسائلِ بخشش، صفحہ:100۔

## شرعي حکم له د اهميت ورکولو عظيم مثال

بهر حال! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** شرعي حکم له اهميت نهٔ ورکول، هغه معمولي ګڼل ډيره زياته بے باکي ده، د الله پاک د راکړے شوو حکمونو څومره اهميت دے، پهٔ دې باندې د څان پوهه کولو د پاره يو ايمان تازه کوونکے روايت واورئ! حضرت اِبنِ ابي ليلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د کربلا پهٔ ميدان کښې چې کله د اِمام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا يقين شو چې د وعدې وخت راغلے دے، اوس به شهيد کيږم نو هغوئي وفرمائيل: ما له څهٔ پيره کپړه راوړئ! (لږ پهٔ غور سره واورئ چې هغوئي کپړه ولې غوارِي، اوئې فرمائيل: پيره کپړه راوړئ!)، زهٔ دا کپړه د خپلې اغوستے شوو جامو نه لاندې ږدم د پاره د دې چې کله زهٔ شهيد شم او پهٔ زمکه راپريوځم نو چې زما سَتر ښکاره نهٔ شي- د هغوئي پهٔ خِدمت کښې کپړه پيش کړے شوه، هغوئي هغه د اغوستے شوو جامو لاندې راتاؤ کړه- (1)

**اَللّٰهُ اَكْبَر! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم عاشقانو!** اندازه ولګوئ چې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم حکمونو له اهميت ورکوونکي څومره اهميت ورکوي ❖ زمونږه حال داسې دے چې معمولي شان پريشاني راشي ❖ لږ شان مو پهٔ سر باندې درد راشي نو جَمعه رانه قضا شي ❖ بعضې وخت خو **مَعَاذَ اللّٰه!** نـمونځ رانه هم قضا شي ❖ لږ شان مو لاس تنګ شي نو زړهٔ مو د سود طرف ته مائل شي ❖ بعضې نادانه خو د غريبۍ نه د ويريدو پهٔ وجه سود باندې د قرض راخستو نه هم بالکل نهٔ ويريږي ❖ د غم ختمولو پهٔ نوم باندې

---

1... تاريخ ابن عساکر، حسين بن علي، جلد: 14، صفحه: 221-

د ګناهونو د مور يعني د شرابو اَسره اخستے كيږي- غرض دا چې په معمولي معمولي بهانو جوړولو د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرمانئ كولے شي- بل خوا د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَـنْهُ مبارك انداز ته وګورئ چې د قيامت په شان منظر وو، د درې ورځو نه اوبه بندې دي، ورور، وريرونه، ځامن د سترګو د وړاندې شهيدان كړے شوي دي، د وړوكي علي اصغر رَضِيَ اللهُ عَـنْهُ مرئ په غشي باندې ويشتلے شوې ده، 72 شهيدان هغوئي اوچت كړي وو، د دې قيامت په شان موقع باندې هم هغوئي د خومره اهميت سره په شرعي حكمونو باندې عمل كوي--!!

كاش چې زمونږه هم دا جذبه، دا شوق، دا ذوق او د اِيمان داسې كمال نصيب شو-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د بيان خُلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د بيان خلاصه دا ده چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام او حضرت حوَّا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها په جَنَّت كښې ديره كړے شول، هغوئي پيدا كړے شوي خو د زمكې د پاره وو خو په جَنَّت كښې د ديره كولو حكمتونه وو مثلاً ❖ په دې ذريعه د شيطان دښمني واضحه كړے شوه، ځكه مونږ له پكار دي چې شيطان هميشه خپل دښمن وګڼو، د هغهٔ د چلونو نه بچ اوسو، د هغهٔ په جال كښې د راګيريدو نه په بچ كيدو د جَنَّت په لاره باندې ځو او ❖ دويم حكمت دا چې په دې ذريعه د دِيني حكمونو اهميت واضحه كړے شو چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام يوه خطا كومه چې ګناه نهٔ وه، هغه د جَنَّت نه د بهر راتلو

وجه جوړيدے شي نو زمونږه پهٔ زړګونو ګناهونه مونږ د جَنَّت نه محرومه کولے هم شي- ځکه مونږ له پکار دي چې اِسلامي حکمونو له اهميت ورکړو او هميشه د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري کوو- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مَدَنِي قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَنِي قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے- پهٔ دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَنِي قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعني پهٔ دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَنِي قاعِدې پهٔ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، پهٔ آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پهٔ مرستې سره پهٔ اسانۍ سره مَدَنِي قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي- دا ايپلي کيشن پهٔ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پهٔ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

## د فوم يا د ګدۍ وغيره د پاکولو طريقه

**وضاحت:** عام طور پهٔ کورونو کښې واړهٔ ماشومان پهٔ فوم يا د بيډ پهٔ ګدۍ (***Mattress***) وغيره باندې مِتيازې کوي، بيا مئيندې پهٔ هٔغه ځائے اوبهٔ ترمکيا کړي يا لـمده کپړه پرې راښکې- ياد ساتئ چې پهٔ داسې کولو فوم يا ګدۍ نهٔ پاکيږي- د فوم يا د ګدۍ د پاکولو طريقه واورئ! **(1)**: وړومبۍ طريقه دا ده چې فوم درې کرته وينځې او هر ځل يـې د دومره وخت د پاره پريږدې چې د اوبو څاڅکې څڅيدل ترينه بند شي، کله چې پهٔ دريم ځل د وينځلو نه پس څاڅکې څڅيدل بند شي نو فوم به پاک شي، د دې د وينځلو نه پس نچوړول ضروري نهٔ دي- **(2)**: دويمه طريقه دا ده چې پهٔ روانو اوبو کښې (مثلاً نَلکه/ ټوټۍ پرانځئ او د هغې نه لاندې) فوم پريږدې کله چې نجاست د ختميدو يقين راشي نو فوم به پاک شي-[1] دا خيال ساتئ چې د ګنده فوم يا ګدۍ نه دارې پهٔ جامو اونهٔ شي، ګنې نو جامې به هم پليتې شي-

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي حکمونو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو

---

1... فتاوىٰ اہلسنت (غير مطبوعہ)، فتوىٰ نمبر:Web-305 -

توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الــحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## يَا وَاجِدُ

څوک چې د ډوډۍ خوړلو پهٔ وخت د هرې نمړۍ سره يَا وَاجِدُ لولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هٰغه خوراک به د هغهٔ پهٔ خېټه کښې نُور وي او بيماري به ترينه لرې کيږي- [1]

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مدنی پنج سوره، صفحه:254-